مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رشید ۲۰۲۱/۰۸/۲۶

# غــزل

بیا څه سترګک وهي آسمانه چي خبره څه ده ؟
سرې پوهیږي نه، جانانه چي خبره څه ده ؟

زما د زړه ویني په څوښ شي چي ته حال نه وايې
په خپله مینه شم پښیمانه چي خبره څه ده ؟

یوازې دومره یم پوه شوی چي یوغل راغلی
بیامې په نورو کالوتانه چي خبره څه ده ؟

کډې به بیا باروو ځوبه داغیارو څنګ ته
بیا به مواخلي ښه ارزانه چي خبره څه ده ؟

لکه چي هسې مو توبه الله قبوله نه کړه
سالارمووتښ له کاروانه چي خبره څه ده ؟

تورې وریځې راخورې شوې دایلم له څوکو
ترناوې لاندې شوم بارانه چي خبره څه ده ؟

زما دخیال استازی اوس دحسن نازنه اخلي
خوبونه ویني پریشانه چي خبره څه ده ؟

الله دخیرکړی کابله د تورتم کوربه شوې
باورونه کړې په مهمانه چي خبره څه ده ؟

رشید
د ۲۰۲۱ کال اګست ۲۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ